# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۲٤مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۱٤مه | ٤۹٦يمه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### سلطان قابوس



قابوس بن سعید چې په عمان کې واک ته ورسېد، نو ایله په دغه وران، وروسته پاتې او له پښو لوېدلي هېواد کې د پرمختګ او نوښت ساه وچلېده. له همدې امله سلطان قابوس په عمان او ټوله سیمه کې له درناوي برخمن دی.

### کرنې ریاست: سږ کال په کندهار کې ۳۵ زره متریک ټنه ممیز تولید شوي



د کندهار د کرنې او مالدارۍ رییس حفیظ الله سیدي ویلي چې په کندهار کې سږ کال له ۲۸۰ زره متریک ټنه تولید شویو انگورو ۳۵ زره متریک ټنه ممیز تولید شوي.

سیدي ویلي، د کرنې وزارت له خوا د کندهار ولایت انګورو بڼوالو لپاره د دغه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۳۸۸ ممیز خونې جوړ شوې چې ورسره د ممیزو په کیفیت کې مثبت بدلون راغلی دی.

هغه ویلي، دا مهال په سلګونه مېرمنې او نارینه د ممیزو پر وچولو بوخت دي، چې دا یې د عوایدو د تر لاسه کولو یوه ښه وسیله ده. د دوی په خبره، د دغه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې پر ۲۰ زره او ۵۰۰ هکتاره ځمکه د انگورو تاکونه ولاړ دي، چې په دې وروستیو کې یې ځینې د کرنې وزارت په همکارۍ عصري شوي هم دي.

دوی دغه راز زیاته کړې چې سږ کال د دغه ولایت د انگورو حاصلات ۱۵ سلنه زیات شوي دي.

# افغان ځواکونو ته سپارښتنه؛

## ولسمشر غني: هېڅ امنیتي مسوول د هېڅ افغان وګړي د وژلو حق نه لري




۳

ولسي جرګه ولې بې ارزښته شوې؟

۲ مخ

په نړیوال سیاست کې د نرم ځواک اهمیت او افغانستان

۲ مخ

د سلیماني وژل کېدل، ولې اسلامي دولت یا داعش ډلې ته ښه خبر دی؟

۳ مخ

### امریکا: که له طالبانو سره هوکړه وشي او که نه، په افغانستان کې خپل سرتېري کموو

د امریکا متحده ایالتونو د ملي امنیت شورا سلاکار رابرټ اوبراین ویلي چې روان ۲۰۲۰ ز کال له طالبانو سره یوې هوکړې ته رسېدل ممکن دي.

هغه ویلي، که دغه هوکړه هم ونه شي، ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو کمولو ته چمتو دی.

نوموړي د اکسیوس په نامه له یو امریکایي وېب سایټ سره په ځانګړې مرکه کې ویلي، هغه شرایط ببرته برابر شوي چې پر اساس یې امریکا له طالبانو سره خبرې کوي. هغه ویلي: «که د یوې معاملې له مخې وي یا پرته له معاملې، په افغانستان کې به د خپلو سرتېرو شمېر کم کړو».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د متحده ایالتونو ولسمشر افغانستان ته د سفر پر مهال په بگرام پوځي اډه کې اعلان وکړ، چې په افغانستان کې به د امریکایي سرتېرو شمېر ۸٦۰۰ تنو ته راکم کړي.

د امریکا د ملي امنیت شورا سلاکار د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا ولسمشر ټرمپ به د امریکا تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسېږي، ویلي: «د ولسمشریزو ټاکنو د مهالوېش په اساس قضاوت نه شي کولی، خو ممکنه ده چې سږ کال هوکړې ته ورسېږي. موږ پر هغه باندې کار کوو، خو باید یوه ښه معامله وي». دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین رسنیو ته ویلي چې له امریکایي لورې سره پر ټولو مواردو هوکړې ته رسېدلي او ډېر ژر به د سولې هوکړه لاسلیک شي.

### د طالبانو او امریکایي پلاوي تر منځ د سولې هوکړه بشپړه شوې او ژر به لاسلیک شي



۵ مخ

### فهیم: ۳۱۳ قریه در ۱۰۷ ولسوالی از ناحیه وقوع حوادث طبیعی در تهدید قرار دارد



نجیب آقا فهیم وزیر دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی افغانستان می‌گوید، ۳۱۳ قریه در ۱۰۷ ولسوالی از ناحیه وقوع حوادث طبیعی در تهدید قرار دارد.

آقای فهیم دیروز به رادیو آزادی گفته است: «پیش‌بینی ها این است که ۳۱۳ قریه در ۱۰۷ ولسوالی با انواع مختلف وقوع حوادث طبیعی مواجه هستند. مجموعاً تعدادی متضررین احتمالی به ۱۱٦ هزار فامیل می‌رسد که نزدیک به یک میلیون نفر را در بر می گیرد».

به گفته او همین اکنون در ۱۴ ولایت برفباری شدید و در ۴ ولایت باران‌های شدید ادامه دارد.

این در حالی است که اخیراً مناطق شمال شرق، قسمت‌های مرکزی، جنوب و جنوب غرب شاهد برفباری و باران‌های شدید بودند.

به گفتۀ آقای فهیم، در دو چند گذشته در نتیجه سیلاب‌های ناشی از باران‌های شدید بیش از ۱۸ نفر در ولایات هلمند، کندهار و هرات جان داده اند.

او افزوده است که آن‌ها کمک‌های مؤسسات امدادرسانی خارجی را نیز با خود دارند که پس از سروی به نیازمندان توزیع خواهد شد.

قابل یاد آوری است که بر اثر برف های سنگین راه های اکثر ولایت به روی ترافیک مسدود است که به مردم این ولایات مشکلات نیز ایجاد کرده است.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## درېځ

### ولسي جرګه ولې بې ارزښته شوې؟

ولسي جرګه بیا بیا د سوداګرۍ سرپرست وزیر اجمل احمدي جرګې ته ورغواړي، خو ښاغلی احمدي نه ورځي. پرون د ولسي جرګې غړو یو متفاوت ګام واخیست، د سوداګرۍ وزارت لپاره ټاکل شوې بودجه یې وځنډوله او پرېکړه یې وکړه چې ولسي جرګه نور اجمل احمدي د سوداګرۍ د سرپرست وزیر په توګه نه پېژني او ټولې کړنې یې ناقانونه دي. یوازې اجمل احمدي نه دی، بلکې نور سرپرست وزیران هم ډېر وخت یا ولسي جرګې ته نه ورځي او یا یې هم د وکیلانو خبرو او نظرونو ته ارزښت نه ورکوي. اجمل احمدي خو به له دې امله ولسي جرګې ته نه ورځي چې نه په پښتو او نه هم په دري خبرې کولی شي، خو ډېری وزارتونه سرپرستان اداره کوي چې په طبیعي ډول د ولسي جرګې پر وړاندې بې تفاوته دي. د ولسمشر غني د واکمنۍ تر پایه پورې کابینه تکمیل نه شوه او همدا اوس هم تر نیمایي ډېر وزارتونه سرپرستان اداره کوي. دا سرپرستان ډاډمن دي چې ولسمشر غني یې د رایې لپاره ولسي جرګې ته نه ورپېژني او د وکیلانو رایې ته اړتیا نه لري، له همدې امله د ولسي جرګې پر وړاندې بې تفاوته دي. له بله اړخه دوی پر دې هم ډاډمن دي چې که د ولسي جرګې غوښتنې قانوني هم وي او اساسي قانون دوی مجبور کړي چې جرګې ته ځواب ووایي، خو ولسمشر دا قوانین په نظر کې نه نیسي او ولسي جرګې ته اهمیت نه ورکوي. د دې تر څنګ، ولسمشر غني بیا بیا حکومتي چارواکو ته دا روحیه ورکوي او آن په حکومت کې اوس دا ذهنیت عام دی چې ولسي جرګه مهمه نه ده، اهمیت باید ور نه کړل شي او حکومتي چارواکي باید کارونه هغسې مخکې یوسي، چې ارګ یې غواړي. په اوسني حکومت کې ذهنیت داسې دی چې که له یوه چارواکي ولسمشر راضي وي، نو دا مهمه نه ده چې ولسي جرګه، مشرانو جرګه، ولس او آن خپل مامورین ترې ناراضه وي. له همدې امله د اجمل احمدي غوندې خلک سرپرست وزیران دي چې نه پر پښتو پوهېږي، نه پر دري او نه هم کوم داسې کمال لري چې وزارت ته یې ځانګړی کار کړی وي. یوازې له ولسمشر سره یې ښه اړیکه ده، دا چې دا اړیکه، څه ده، څا جوړه کړې، څنګه یې جوړه کړې، معلومه نه ده، خو پخه اړیکه ده. دا اړیکه د دې سبب شوې چې ولسمشر د اجمل احمدي پر ټولو نیمګړتیاوو سترګې پټې کړي، ملي شورا پرې خپه کړي او آن وزارت پرې خراب کړي.

له ولسي جرګې سره د حکومت چلند داسې دی، لکه دا جرګه چې یوه بې مانا، بې ارزښته، ناقانونه او بې صلاحیته وي، خو په دې کې خپله د ولسي جرګې ستونزه هم ده. په جرګه کې داسې وکیلان شته چې حکومت راوستلي او یا له حکومت سره د اړیکو لپاره پر هر څه پښه ږدي. له بله اړخه د ولسي جرګې کمزوری چلند، بې درېځي او نه جدیت هم د دې سبب شوي چې دا جرګه هم د حکومت پر وړاندې بې مانا او بې ارزښته شي او هم ولس پرې باور له لاسه ورکړي. که ولسي جرګه غواړي اهمیت پیدا کړي، نو باید خپل ټول هغه صلاحیتونه اعمال کړي چې قانون ورکړي دي. د سرپرستۍ تغر باید ور ټول کړي او له حکومت سره جدي حساب کتاب وکړي. له دې پرته بې اهمیته او بې ارزښته ولسي جرګه لا زیاته لوېږي او خپل حیثیت له لاسه ورکوي.

# په نړیوال سیاست کې د نرم ځواک اهمیت او افغانستان

لیکنه: مشتاق رحیم

د نړۍ په سیاسي ادبیاتو کې د ځواک بحث خورا مطرح دی او د هیوادونو د نړیوال حیثیت درجه بندي د هغوی د ځواک په رڼا کې کیږي. کله چې د ځواک بحث کوو، نو د نړیوالو اړیکو په چوکاټ کې پیاوړی پوځ او پرمختللي جنګي وسایل ذهن ته راځي. داسې انګیرل کیږي چې هر هغه هیواد چې د جګړې ډېره وړتیا لري، هماغه پیاوړی دی. خو په عصري نړیوالو اړیکو کې د ځواک تعریف او شرحې خورا ډېر بدلون موندلی او د نظامي وړتیا تر څنګ نور عناصر هم دي چې د یو هیواد د ځواک کچه ټاکي.

د هارورډ پوهنتون د استاد جوزف نای (Joseph Naye) له انده، ځواک هغه وړتیا ده چې پر مټ یې د نورو کړه وړه په داسې بڼه عیار شي، چې ستاسې د موخو په تر لاسه کولو کې ګټور ثابت شي. د دې تعریف په رڼا کې جوزف نای په خپل کتاب «نرم ځواک: د نړۍ په سیاست کې د بریا طریقه» کې ځواک پر دوو برخو وېشي، چې یو یې هماغه د جګړې وړتیا ده او د کلک ځواک نوم یې ورته ورکړی او بل هم نرم ځواک دی.

نرم ځواک په حقیقت کې د یو هیواد د جذابیت (Attraction) قوه ده چې نور هیوادونه او یا هم د نړۍ وګړي په هڅوونکې بڼه اړ باسي، چې له نوموړي هیواد څخه اغېزمن شي او د چارو په اړه داسې دریځ خپل کړي چې د نرم ځواک خاوند یې غواړي. د چارو په اړه د یو هیواد د جذابیت یا زړه راښکون د دې لامل کیږي چې د نورو ملاتړ را خپل کړي او له دې لارې خپلې موخې په آسانۍ او پرته له دې چې په شخړو کې ښکیل شي، تر لاسه کړي. یو هیواد چې په هره کچه د نورو خواخوږي، ملاتړ او فکري میلان له خپلو موخو سره عیاروي، په هماغه کچه د نرم ځواک له اړخه پیاوړی ګڼل کیږي. په نړۍ کې د نرم ځواک د کچې د ټاکنې لپاره یوه نړیواله درجه بندي (Soft Power Index) هم جوړه شوې ده، چې په دغه لېست کې فرانسه په ۲۰۱۹ ز کال کې تر ټولو پیاوړی هیواد شمیرل شوی.

د نرم ځواک بنسټیزې سرچینې د یو هیواد کلتور، سیاسي لید، کړنلارې، سیاسي ارزښتونه، علمي، مطبوعاتي او ټکنالوژیکي پرمختګونه ګڼل کیږي. د یو هیواد بډایه کلتور کیدای شي د نورو نیک نیت د را خپلولو لامل شي او د دغه نیک نیت په مرسته د بډایه کلتور خاوند هیواد وکولی شي، چې د خپلو موخو د تر لاسه کولو تکل وکړي. د بېلګې په ډول، د هندوستان فلمي نړۍ د دې لامل شوې چې له دغه هیواد سره د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو د ولسونو مینه او کلتوري اړیکه جوړه کړي او له دې لارې هندوستان توانېدلی چې د ځان لپاره خواخوږي او مینه وال منسجم کړي. همدا راز شونې ده چې د یو هیواد سیاسي ارزښتونه د نورو لپاره زړه راښکونکي وي. یا هم د نورو په مقابل کې د ترحم احساس د پردیو د ملاتړ د تر لاسه کولو لامل شي او همداسې د یو هیواد مظلومیت بیا کولای شي چې د ملګرو او خواخوږو په پیدا کولو کې ورسره مرسته وکړي. د بېلګې په ډول، پاکستان له ۲۰۰۱ ز کال وروسته په قبایلي سیمو کې د طالب جنګیالیو رابرسېره کیدل او له کبله یې ورته ورپېښو ننګونو پر مټ نړۍ ته ځان د تروریزم قرباني معرفي کړ. له دې چارې سره پاکستان پر دې و توانید چې د افغانستان هغه داعیه چې پاکستان د یاد هیواد په چارو کې مداخله کوي، کمزورې کړي. همدا راز پاکستان په همدې پلمه له ناټو او امریکا څخه خورا ډېرې مالي مرستې هم تر لاسه کړې.

د نرم ځواک اغېز تر ډېره د متقابلو هیوادونو سیاسي پوخوالي، کلتوري حیثیت، اقتصادي حالت، تعلیمي کچې او داسې نورو وړتیاو سره تړاو لري. د بېلګې په ډول، د امریکا د نرم ځواک اغېز ښایي په هغه کچه په انګلستان کې نه وي، چې په افغانستان، هندوستان یا بنګله دیش کې دی. د بېلګې په ډول، کیدای شي د امریکایي ټولنې معیارونه په انګلستان کې دومره لوړ ونه ګڼل شي، لیکن همدا معیارونه بیا د سویلي آسیا د یادو هیوادونو وګړي په بېلګو کې کاروي. په بل عبارت، امریکایي معیارونه په یوه ټولنه کې د زړه راښکون لامل دي او د نرم ځواک په توګه یې ځینې هیوادونه تر خپل اغېز او سحر لاندې نیولي، خو په یوه بله ټولنه کې بیا همدا معیارونه تر پوښتنې لاندې راځي او ممکن نیوکې هم ورباندې وشي. د کلک ځواک په پرتله چې په هر ځای او هر حال کې په یو ډول د کارېدو وړتیا لري، نرم ځواک بیا له دې اړخه له ځانګړې محدودیت سره مخ دی، چې په یو ځای کې خورا اغېز خپروونکی دی، خو په یوه بله ټولنه کې هېڅ اهمیت ورته نه ورکول کیږي.

د ځواکونو د توپیر په بحث کې یوه جالبه نکته دا ده چې کله کله کلک ځواک د نرم ځواک محتاج وي، خو نرم ځواک تر ډېره بریده د کلک ځواک له انحصاره خلاص دی. د یو هیواد د کلک ځواک کارونه ډېری وخت اړ وي چې د نرم ځواک ملتیا له ځانه سره ولري. په دې لړ کې که وکتل شي نو د سپټمبر له بریدونو وروسته امریکا ځان نړۍ ته د مظلوم په توګه وړاندې کړ او له دې لارې وتوانېده چې په افغانستان کې د طالبانو پر ضد خپل نظامي ځواک وکاروي. بله خوا که بیا وکتل شي په عراق او افغانستان کې د چریکي جګړه مارو ډلو دا موخه چې غواړي امریکا له سیمې وباسي، د سیمې هیوادونو لپاره د زړه راښکون لامل شوې ده او همدا لامل دی چې د سیمې هیوادونه د دغه ډلو په اړه نرم دریځ پالي.

که څه هم د نړۍ په سیاست کې کلک ځواک خپل ځانګړی اهمیت او ځای لري او همدا دلیل دی چې هیوادونه د پخوا په څېر اوس هم په دې تکل کې دي، چې خپلې پوځي وړتیاوې لا پسې پیاوړې کړي، خو د نرم ځواک اهمیت په خپل ځای پاتې دی. نرم ځواک په کم لګښت د سترې موخې په تر لاسه کولو کې مرسته کوي او ډېری وخت ځواکمن هیوادونه اړ کوي چې له کمزورو هیوادونو سره د برابرۍ برخورد او چلند تمثیل وکړي. په دې لړ کې د هندوستان او چین تر منځ سیالۍ له کبله امریکا له هند سره خپلې ستراتیژیکې اړیکې پیاوړې کړې. امریکا د دې لپاره چې په سیمه کې د خپلو موخود ساتلو په پار د چین په مقابل کې د یو پیاوړي ځواک شتون ته اړتیا لري او د امریکا دا موخه هندوستان په ښه ډول پاللی شي، نو د هند جغرافیوي او اقتصادي حیثیت په دې قضیه کې نرم ځواک ګرځیدلی دی. همدا ده چې امریکا له هند سره په تېره یوه لسیزه کې خپله ستراتیژیکه ملګرتیا خورا پیاوړې کړې ده. همدا راز د افغانستان جغرافیه او له پاکستان سره یې جیو ستراتیژیکې خرابې اړیکې د دې لامل شوې، چې هند له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي مرستې وکړي.

د نرم ځواک کارول د افغانستان په څېر کمزوریو او بېوزلو هیوادونو لپاره خورا ډېر مهم او اړین دی. تر ټولو څرګند اهمیت یې دا دی چې بېوزله هیوادونه له مالي اړخه دا وړتیا نه لري، چې خپل کلک ځواک یانې پوځي ځواک پیاوړی کړي، نو اړینه ده چې د کم مصرفه ځواک د پیاوړي کولو هڅه وکړي او له دې لارې ورته متوجه ګواښونو سره د مقابلې وړتیا پیدا کړي. د یادونې وړ ده چې د نرم ځواک پیاوړي کول هم مصرف لري او داسې هم نه ده چې ګواکې د دې ځواک پیاوړي کول هیڅ ډول مصرف نه لري. د نرم ځواک، د نړیوالې درجه بندۍ له معیارونو سره سم، پیاوړي کول ډېر مالي مصرف ته اړتیا لري. خو د کلک ځواک په پرتله نرم ځواک یوه ښېګڼه لري چې یو هیواد کولی شي د خپلو مالي سرچینو له وړتیاوو سره سم یوازې هغه عناصر په نظر کې ونیسي، چې مصرف یې ګاللی شي. بناً، افغانستان کولی شي چې د خپل نرم ځواک لپاره یو چارچوب جوړ کړي او د نرم ځواک د پیدا کولو لپاره پر هغو عناصرو کار وکړي، چې وسه یې ورته رسیږي.

څرنګه چې پورته یادونه وشوه، د نړۍ په بېلابېلو هیوادونو کې د نرم ځواک د درلودلو لپاره اړینه ده چې د هغو هیوادونو پوره څېړنه وشي او بیا هغه ټکي پیدا شي چې د ټولنې خپلولو کې رول لوبولی شي. د بېلګې په ډول، افغانستان د چین په مقابل کې د خپل نرم ځواک د پیاوړي کولو لپاره باید دغه هیواد ته په افغانستان کې د شته اقتصادي سرچینو له اړخه زړه راښکون پیدا کړي، دغه راز افغانستان کولای شي د منځنۍ آسیا پر وړاندې شته خطرونه او ګواښونه نوموړو هیوادونو ته په پوره توګه واضح کړي او له دې لارې هغوی خپل ملاتړي وګرځوي. اړینه ده چې لومړی د بېلابېلو هیوادونو چې ملتیا او ملګرتیا یې د افغانستان په امنیت، ټیکاو او پرمختګ کې رول درلودای شي، وپېژندل شي. بیا د دغو ټولنو څېړنه وشي چې هغه کوم څه دي چې د دوی زړه په را خپلولو کې به مرسته وکړي او بیا د دغو هیوادونو په وجود کې د نرم ځواک د پیاوړي کولو لپاره یوه عملي ستراتیژي پلې شي.

د یادونې وړ ده چې افغانستان له ۲۰۰۱ ز کال څخه تر اوسه یوازې خپل د مظلومیت، بېوزلۍ او د ولس مجبوري د نرم ځواک د وسیلې په توګه کارولې ده. همدا راز په افغانستان کې د پاکستان ناوړه لاسوهنه دویم هغه څه دي، چې پر مټ یې د نورو هیوادونو د زړونو را خپلولو هڅه شوې ده. که وکتل شي، په لومړي سر کې دغه وسیلې خورا په بریا سره د افغانستان قضیه نړۍ مخ ته کېښوده او افغانستان ته یې خورا ډېر خواخوږي، ملګري او ملاتړي را جلب کړل. خو له بده مرغه، د نرم ځواک د ساتلو او د هغې د لا پیاوړي کولو په موخه تنوع او ابتکار پر ځای، پر همدې دویمو ضوعاتو تکیه وشوه چې د وخت په تېرېدو سره دا دوه سوژې خورا وسولېدلې او خپل اغېز یې له لاسه ورکړ. دا چې افغانستان د نړۍ سیاسي او اقتصادي ملګرتیا او ملاتړ ته اړتیا لري، دا چې افغانستان په سیمه کې د پیاوړو هیوادونو له خوا ورپېښو سترو ننګونو سره مخ دی او دا چې افغانستان د کلک ځواک د زیاتولو وړتیا نه لري، اړینه ده چې د خپل نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره پر یوه ژوره ستراتیژۍ باندې فکر وکړي. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان بقا د نرم ځواک په پیاوړي کولو کې نغښتې ده.

## شکایتونو کمېسیون: د ځینو محلونو رای شمېرنه به د ټاکنو پر پایلو اغېز ولري

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د ځینو محلونو رای شمېرنه کېدای شي د ټاکنو پر پایلو اغېز ولري.

د دغه کمېسیون د چارواکو په خبره، په ۲۶ ولایتونو کې به په نږدې پنځو زرو محلونو کې د رایو بیاشمېرنه وشي.

یاد کمېسیون له کابل پرته په ټولو ولایتونو کې د ټاکنیزو ډلو د ثبت شویو شکایتونو په اړه پرېکړه کړې ده.

د دې پرېکړې یوه برخه، په ۲۶ ولایتونو کې د نږدې پنځو زرو محلونو دننه د رایو بیاشمېرنه ده.

دغه کمېسیون که څه هم په ولایتونو کې د شویو پرېکړو په اړه بشپړ جزیات نه دي ورکړي، خو ویلي یې دي، هغه پرېکړې چې تر اوسه شوې، د ټاکنو پر لومړنیو پایلو کوم تاثیر نه لري، خو په ځینو محلونو کې د رایو بیاشمېرنه به پر پایلو اغېز وکړي.



د دغه کمېسیون د دارالانشا رییس چمن شاه اعتمادي ویلي، هغه رایې چې په ولایتونو کې باطلې او یا هم با اعتباره شمېرل شوې، شمېر یې ډېر نه دی.

اعتمادي ویلي: «په ولایتونو کې د باطل شویو او یا هم با اعتباره شویو رایو شمېر ډېر نه دی چې د ټاکنو پر پایلې اغېز وکړي، خو د هغو محلونو چې بیل شمېرل کېږي، بیا شمېرنه یې کېدای شي بدلون راولي».

په ورته وخت کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د دایکنډي دفتر په دې ولایت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون شپږ کمېشنران څارنوالۍ ته معرفي کړي دي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د دارالانشا رییس چمن شاه اعتمادي دا خبره منلې او ویلي یې دي چې د دوی ولایتي کمېسیونونه د خپلواکې مرجع په توګه مستقل دي، خو په دې پرېکړه کې بدلون هم راتلای شي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا ویلي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ولایتي دفترونه د دې ډول پرېکړو حق نه لري.

د دغه کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ویلي: «د ټاکنیزو شکایتونو ولایتي کمېسیونونه نه شي کولای چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړي څارنوالۍ ته معرفي کړي، د دوی د واک ساحه معلومه ده. دا پرېکړه د ټاکنیزو شکایتونو د مرکزي کمېسیون صلاحیت دی».

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو د قانون له مخې، په ولایتونو کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د شکایتونو د تصنیف بندۍ، څېړنې او په اړه یې د پرېکړې کولو ۱۵ ورځنۍ وخت تېره ورځ پای ته ورسېد، خو په ولایتونو کې د شویو پرېکړو په اړه د نږدې ۵۰۰ قضیو اړوند د استیناف غوښتنه هم شوې ده.

شکایتونو کمېسیون دغه راز ویلي، د غبرګولي یا جدی میاشتې له ۲۴مې (نن) معترضین حق لري چې له دوی سره د دریو ورځو په اوږدو کې د استیناف غوښتنه شریکه کړي.

# د سلیماني وژل کېدل، ولې اسلامي دولت یا داعش ډلې ته ښه خبر دی؟

بي بي سي- پښتو

اسلامي دولت یا داعش د ایران د قدس ځواکونو د قوماندان قاسم سلیماني د وژل کېدو هرکلی کړی دی.

دغې ډلې په یوه خبرپاڼه کې د سلیماني وژنه د جهادي ډلو په ګټه بللې ده، خو په خبرپاڼه کې یې دا نه دي ویلي چې نوموړی د امریکا له خوا وژل شوی دی.

قاسم سلیماني د فبرورۍ په دربیمه په بغداد کې د امریکا هوایي برید ووژه.

د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خوا د سلیماني د وژل کېدو پرېکړې د ایران او امریکا تر منځ ترینګلتیا لا ډېره کړه، چې د جهادي ډلو پر وړاندې د جګړې نه ختمېدو خبره هم وشوه.

د سلیماني تر وژل کېدو وروسته، په عراق کې د اسلامي دولت نومې ډلې پر ضد د امریکا په مشرۍ ائتلاف خپل عملیات ودرول. امریکا او د ائتلاف ملګرو یې اعلان وکړ چې اوس یې اصلي دنده له ځانه دفاع کول دي.

له پوځي اړخه داسې ګومان دی چې ګټنې دوی بل غوراوی نه درلود. ایران او ایران پلوو ملېشو د سلیماني د وژنې د غچ اخیستو ګواښ وکړ. د سلیماني وژل کېدل د اسلامي دولت نومې ډلې په ګټه تمام شول.

د عراق پارلمان له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو پر پلوۍ رایه ورکړه، چې دا هم په دغه هېواد کې د وسله والو ډلو په ګټه کار و.

اسلامي دولت نومې ډلې په تېرو څو کلونو کې په عراق کې خونړۍ جګړې وکړې، په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ ز کلونو کې په عراق او سوریه کې د یادې ډلې پر ضد لویو پوځي عملیاتو ته اړتیا وه.

ډېری جهادیان ووژل شول یا بندیان شول، خو دا ډله بشپړه ختمه نه شوه.

دغې ډلې په عراق او سوریه کې د خپل نفوذ په سیمو کې بیا خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ، بریدونه یې پیل کړل، مالي ملاتړ یې ډېر کړ او ډېرې وژنې یې وکړې.

د عراق حکومت په پوځ او پولیسو کې نخبه کنډکونه لري، چې امریکایي او اروپايي ځواکونو روزلي. دغو کنډکونو هم د اسلامي دولت نومې ډلې پر ضد جګړه وکړه.

د سلیماني له وژل کېدو وروسته، امریکا عملیات او روزنه ودروله چې ډنمارک او جرمني هم دا کار وکړ. جرمني له عراقه خپل پوځي روزونکي اردن او کویټ ته واستول.

عراقي ځواکونه تر ډېره د اسلامي دولت ضد جګړې ته پاتې شول، خو لوجستیکي ملاتړ تر ډېره د امریکا له خوا ورسره کېده، خو اوس هلته امریکایي ځواکونه یوازې تر اډو پورې محدود دي.

د داعش جنګیالیو لپاره یوه بله موضوع هم د نمانځنې ده. هغه دا، کله چې ټرمپ د سلیماني د وژنې پرېکړه وکړه، دوی ته د یوه غلیم په لاس د بل غلیم د وژلو ننداره ډالۍ شوه.

په ۲۰۱۴ ز کال کې دغې ډلې د عراق د ډېری سیمو د نیولو په موخه عملیات وکړل، چې د عراق دویم لوی ښار موصل یې ونیو.

**د کفايي جهاد فتوا**

په عراق کې د شیعه ګانو ستر مذهبي مشر ایت الله علي سیستاني د اسلامي دولت نومې ډلې د سخت دریځو سُني جنګیالیو پر ضد د کفايي جهاد فتوا ورکړه. زرګونه شیعه ځوانان جګړې ته داوطلبه شول، سلیماني او ډلې یې دغه شیعه ځوانان پر جنګي کنډکونو ووېشل او هغوی یې وروزل. دغه وسله والې ډلې له اسلامي دولت نومې ډلې سره په جګړه کې تر ټولو بې رحمه قاتلې ډلې شوې.

اوس د ایران له ملاتړه برخمنې جنګي ډلې د عراق په پوځ کې هم شته، چې د «حشد شعبي» تر چتر لاندې فعالیت کوي. د دوی مشهور قوماندانان قوي سیاسي مشران هم دي.

تر ۲۰۱۴ ز کال وروسته کلونو کې، وسله والې ډلې او امریکایي ځواکونه له یوشان دښمن سره مخامخ شول، خو اوس شیعه ملېشې بېرته خپلې اساسي عقیدې ته په ستنېدو کې هوډمنې ښکاري، هغه دا چې په ۲۰۰۳ ز کال پر عراق د امریکایي یرغل ختم او امریکایي ځواکونه وتلو ته اړباسي.

دغو ملېشو د سلیماني د وسلو او روزنې په مرسته ډېر امریکایي پوځیان ووژل، یو لوی لامل همدا و چې ټرمپ د سلیماني د وژلو امر وکړ.

په ۲۰۱۸ ز کال له اټومي هوکړې د ټرمپ له یوې اړخیزې وتنې وروسته، د ایران او امریکا تر منځ اختلاف ډېر شو، نږدې وه چې جګړه پیل کړي.

دا په داسې حال کې ده چې شیعه وسله والو ډلو د سلیماني تر وژل کېدو مخکې عملاً د امریکایي ځواکونو په نښه کولو لاس پورې کړی و.

د ډسمبر په وروستیو کې د عراق په شمال کې پر یوه اډه برید وشو چې یو امریکایي قراردادي پکې ووژل شو، امریکا یې په غبرګون هوایي بریدونه وکړل او د عراق کتایب حزب الله ۲۵ جنګیالي یې ووژل. دغو ملېشو د حشد شعبي په نامه فعالیت کاوه.

د حشد شعبي مرستیال مشر ابو مهدي المهندس د بغداد پر هوایي ډګر د سلیماني هرکلی وکړ، خو دواړه د امریکا په برید کې ووژل شول.

تاریخ ښیي چې جهادي ډلې له ګډوډۍ، بې‌ثباتۍ او د دښمن له کمزوریو ګټه اخلي. دا کار مخکې هم شوی او په غالب ګومان یوځل بیا هم تکرارېږي.

# افغان ځواکونو ته سپارښتنه؛

## ولسمشر غني: هېڅ امنیتي مسوول د هېڅ افغان وګړي د وژلو حق نه لري




ولسمشر غني پرون په کابل کې د پولیسو د فراغت په یوه غونډه کې وویل، چې هېڅ افغان سرتېری د افغانانو د وژلو یا په نښه کولو حق نه لري. د ده په خبره، دوی باید قوانینو ته درناوی و لري او په وینا یې د چا د اعدام حکم یوازې افغان محاکم ورکولی شي. نوموړي پر دې ټینګار وکړ چې پولیس به خپلو اصلي دندو ته راګرځي او دوی باید په ډېرو کمو مواردو کې له وسلې کار واخلي.

هغه د پولیسو په لیکو او کورنیو چارو وزارت کې پر اصلاحاتو او پرمختګونو هم ټینګار وکړ.

ولسمشر غني پرون په کابل کې د جنرال عبدالرازق د ملي پولیسو اکاډمۍ د یوولسمې دورې فارغانو ته په وینا کې وویل، پولیس باید هر ګام په پوره تدبیر واخلي او په خپلو چارو کې دې قانون ته درناوی وکړي. له دغه اکاډمۍ پرون نږدې ۴۵۰ محصلین فارغ شول چې د پولیسو په برخه کې یې عملي او اوږدې زده کړې کړې دي.

ولسمشر غني دوی ته د وینا پر مهال وویل، چې صحرايي محکمې باید بندې کړل شي او افغان سرتېري دې د خلکو له وژلو ډډه وکړي. نوموړي د کوم ارګان نوم وا نه خیست او نه یې هم کومې پېښې ته اشاره وکړه، خو په خبره یې، هغه تورن کسان چې د جلب له لارې نیول کېدای شي، پر دوی د خاصو عملیاتو تر سره کولو ته څه اړتیا ده. ښایي د ولسمشر غني موخه په کابل کې وروستۍ پېښه وه، چې په هغه کې د ټاکنیز کمپاین پر مهال د ده ټیم ته نږدې کس آمر ستار ووژل شو.

ولسمشر غني وویل، پولس باید خپلو اصلي دندو ته راوګرځي او د خلکو باور خپل کړي. د ده په خبره، خلک د دې تمه لري چې پولیس د ټولنې رښتیني خدمتګاران وي او د دوی امنیت خوندي کړي. ولسمشر زیاته کړه، ولس نه غواړي چې پولیس یې فاسد وي او همدا راز پر دوی ډز وکړي. د ولسمشر غني په خبره، پولیس د وسلې د کارولو حق لري، خو په وینا یې تر وسلې مخکې باید په تدبیر مسایل حل کړي. غني وویل: «یونیفورم ته درناوی هغه وخت کېږي چې خلک ووینې ستاسو عمل عادلانه، دقیق او سنجول شوی دی. د خلکو اعتماد تاسو په ښو اخلاقو، اغېزناک مدیریت او سم تشخیص تر لاسه کولی شی چې وشی کولی سیمه خوندي او امن کړی».

ولسمشر دغه راز پر پولیسو ټینګار وکړ، چې مجرمین او تورن ونه وژني. هغه وویل، پولیس او بل هېڅ امنیتي ارګان ان سر اعلی قوماندان هم پر چا د ډز او د هغه د وژلو حق نه لري. هغه زیاته کړه: «حتی یو غل هم باید ونه وژني. د اعدام حکم یوازې د محکمې صلاحیت دی».

ښاغلي غني په کورنیو چارو وزارت کې پر اصلاحاتو هم ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې له دغه وزارته به بهرني لاسونه لنډوي. د ولسمشر په خبره، پولیس په ټولنه کې خورا مهم دي، نو د کورنیو چارو وزارت دنده ده چې دغه مهم ارګان په سمه توګه سمبال کړي. نوموړي د کورنیو چارو پر سرپرست وزیر غږ وکړ چې د پولیسو پر اکاډمۍ پانګونه ډېره کړي او همدا راز د افغانستان پولیسو ته یې اړتیا او امکانات پر وخت برابر کړي.

بلخوا د کورنیو چارو سرپرست وزیر مسعود اندرابي بیا وایي چې نوي روزل شوي او فارغ شوي پولیس به د کابل ښار د امنیت لپاره ګومارل کېږي. اندرابي وویل، دغو پولیسو خورا مسلکي روزنه لیدلې ده او د پولیسو په برخه کې لوړې زده کړې لري چې تر دې وروسته به د کابل ښار د امنیت لپاره ګومارل کېږي. هغه زیاته کړه: «زموږ د امنیتي پلان له مخې، دغه فارغ شوي پولیس به د کابل ولایت په دوو حوزو او یوه ولسوالۍ کې پر دنده وګمارل شي».

ولسمشر غني داسې مهال پر پولیسو او امنیتي ادارو د احتیاط غږ کوي، چې تر دې وړاندې یې هم د افغان ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي وګړو پر مرګ ژوبله غبرګون ښودلی و. نوموړي ټینګار کړی و، چې امنیتي ځواکونه د تورنو او مجرمینو د وژلو حق نه لري او باید په عملیاتو کې له پوره احتیاطه کار واخلي، خو امنیتي ادارو تر اوسه په دې مسئله کې له اړین احتیاطه کار نه دی اخیستی.

# راپورونه: د لاهور سترې محکمې د پرویز مشرف د اعدام حکم لغوه کړ



د پاکستان په لاهور ښار کې سترې محکمې د دغه هېواد پر پخواني ولسمشر جنرال پرویز مشرف د اعدام حکم ناقانونه وباله او لغو یې کړ.

محکمې تېره ورځ په خپله پرېکړه کې د مشرف پر ضد جوړه شوې ځانګړې محکمه د پاکستان د اساسي قانون خلاف وبلله او د هغه پر ضد یې د دغې محکمې پرېکړه لغوه اعلان کړه.

د حکومت یو څارنوال اشتیاق خان د فرانسې خبري اژانس ته ویلي: «په هغې محکمه کې د دعوې ثبتول، د محکمې جوړښت او د تحقیقاتي ډلې ګومارل ټول د قانون خلاف وو او د قانون خلاف اعلان شول. بالاخره محکمه او پرېکړه هرڅه ختم شول».

د پرویز مشرف مدافع وکیل اظهر صدیق د لاهور د سترې محکمې مخکې خبریالانو ته ویلي: «دغې عالي محکمې هر څه ختم کړل». دا په داسې حال کې ده چې څارنوالان اوس کولی شي چې د پاکستان د فدرال کابینې له تایید وروسته، د پرویز مشرف پر ضد بله قضیه ثبت کړي.

پر مشرف تور و چې د خپلې واکمنۍ پر مهال یې په ۲۰۰۷ ز کال کې د پاکستان اساسي قانون ځنډولی او د قانون خلاف یې په پاکستان کې بېړني حالت اعلان کړی و. د هغه پر ضد محکمه په ۲۰۱۳ ز کال کې پیل شوې وه. هغه په خپله واکمنۍ کې د پاکستان قاضی القضات هم له دندې لرې کړ او په دې سره په ټول پاکستان کې د هغه پر ضد مظاهرې وشوې.

د یادونې ده چې پرویز مشرف په ۱۹۹۹ ز کال کې د یوې پوځي کودتاه له لارې واک ته ورسېد او د پاکستان ملکي حکومت یې رنګ کړ. دغه راز په ۲۰۰۷ ز کې د پاکستان د پخوانۍ لومړۍ وزیرې بېنظیر بوټو له وژلو وروسته، پر پرویز مشرف فشارونه نور هم زیات شول او بالاخره هغه په ۲۰۰۸ ز کال کې استعفا وکړه.

مشرف بیا په ۲۰۱۳ ز کال کې پاکستان ته لاړ چې په ټاکنو کې ځان کاندید کړي، خو هغه له دغه حق څخه محروم شو او له پاکستان څخه یې پر وتلو هم بندیز ولګول شو، چې په ۲۰۱٦ ز کال کې بیا دا بندیز لرې شو.

د یادونې ده چې د دغه هېواد پخواني لومړي وزیر نواز شریف هم په ۲۰۱۳ ز کال کې د پرویز مشرف پر ضد د غدارۍ قضیه ثبت کړې وه.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

خلورمه برخه

پایله

### یوولسم څپرکی



پاکستان د خپلو نظامي او بهرنیو تګلارو د اصلاح کار پیل کړي. که اسلاماباد په رښتیا هم غواړي رښتینی بدلون راولي، نو باید د اصلاحاتو لړۍ چټکه کړي. حکومت باید خپلې ټولې هغه پټې هڅې پای ته ورسوي چې له مخې یې غواړي افغان حکومتونه ځان ته ور مات کړي. سیاستوال افراسیاب خټک له ډېره وخته په دې اړه نظریات ورکړي، هغه د ۲۰۱۱ز کال په نوومبر کې هم ورته څه ولیکل: ((د پاکستان تګلاره جوړوونکي باید پوه شي چې هغوی د یوې ډلې په ملګرتیا سره د افغانستان ملاتړ نشي کولای. موږ باید له ټول افغان ملت سره ملګرتیا وکړو. موږ باید له چین وروسته له افغانستان سره ښه ملګرتیا او اړیکې ولرو. بل لور، باید چې له افغانستان سره د ملګرتیا سیاسي او اقتصادي اړخونو ته هم پاملرنه وکړو.))

د افغانستان او پاکستان د ستونزو پرلپسې حل له ځان سره سیاسي او اقتصادي ګټې لري. له دې کار سره به توکمي مخالفتونه پای ومومي او په دواړو هېوادونو کې به ملي یووالي ته لاره اواره شي. له دې سره به د پښتنو د تابعیت د حق ستونزه هم حل شي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د ستونزې د حل په صورت کې به پر پوله پراته پښتانه دوه تابعیتونه واخلي. له دې سره به د تاریخ په اوږدو کې د پولې پر غاړو پرتو ټولنو ستونزې اوارې شي. پښتانه او نور قومونه به د اقتصادي او کلتوري پیاوړتیا او له یو بل سره د همغږۍ فرصتونه لاس ته راوړي.

ولسمشر کرزي د افغانستان لپاره پراخې هڅې کړې دي، څو خپل هېواد د چین، منځنۍ اسیا، سویلي او مرکزي اسیا تر منځ په سوداګریز مرکز واړوي. دا سیمې د نړۍ د نفوسو درېیمه برخه نفوس لري. دا سیمه هغه مهال د اقتصادي پول رول لوبولای شي چې پاکستان هم پکې ونډه ولري. له پاکستان څخه افغانستان ته د لېږد لړۍ د ۲۰۰۱ز کال له (۲۲۱) میلیونو ډالرو څخه په ۲۰۱۳ز کال (۲. ۵) میلیارده ډالرو ته جګه شوې. دا کچه به په راتلونکو کلونو کې ښایي (۵) میلیارد ډالرو ته لوړه شي. په ۲۰۱۰ز کال واشنګټن د افغانستان او پاکستان د سوداګریز ترانزیټ تړون ته زمینه برابره کړه چې په ترځ کې یې افغانستان چین، هند او بحر ته لاره پیدا کړه، خو دا تړون د کمزورې زېربنا، ناامنۍ او اداري ستونزو له کبله په بشپړه توګه پلی نشو. د دې تړون د بریالي پلي کېدو سره به د وربښمو د نوې لارې خوب رښتیا شي.

افغانستان او پاکستان دواړه د خپلو طبعي سرچینو پر مټ کولای شي د پانګونې ځانګړی ځواک پر حقیقت بدل کړي. د امریکا د متحده ایالتونو د یوې سروې له مخې ښکاري چې د افغانستان د کانونو اټکل شوی ارزښت یو ټرېلیون ډالرو ته رسېږي. چین او هند لا وختي د مسو او اوسپنې په برخو کې په میلیونونو ډالر پانګونې پیل کړې دي. اوبه یې بله اړینه سرچینه ګڼل کېږي. اوس د کرنې او بربښنا د نسلونو وخت دی، مرکزي اسیا، ایران او پاکستان د پښتون مېشتو سیمو اوبو ته اړتیا لري. له پنځو اړینو رودونو څخه یې څلور په افغانستان کې دي چې مرکزي اسیا، ایران او پاکستان سخته اړتیا ورته لري او دا کار پر لانجې هم اوښتی دی، ځکه نو اړتیا ده چې د سیمه ییزې همکارۍ په اډانه کې د بریالي پلان او دوه اړخیزو ګټو پر بنسټ له دې اوبو څخه ګټه واخیستل شي.

د نفوسو د ودې له اړخه افغانستان او پاکستان دواړه ځوان هېوادونه دي. د دواړو هېوادونو له نیم څخه ډېر چې کچه یې ۱۰۰ میلیونه وګړو ته رسېږي، له دېرشو کلونو ټیټ عمرونه لري. د ځوانانو دومره پراخ موجودیت که په مناسبه توګه ونه کارول شي، د سرچینو پر سر په اسانۍ سره په توکمي شخړو او تاوتریخوالي بوختېدلای شي. د اوسنیو پالیسي جوړوونکو مسئولیت دا دی چې له تېر سره په لوی توپیر د راتلونکو شخړو د مخنیوي لپاره د کار د فرصتونو لپاره اړین کار وکړي. له لسیزو جګړو وروسته ځوان نسل اړتیا لري، روښانه برخلیک کې ژوند وکړي. د یوویشتمې پېړۍ پښتانه اړ دي چې د خپلې اقتصادي او کلتوري پیاوړتیا لپاره ځواکمن ګامونه واخلي، هغوی باید د خپلو پلرونو په څېر پر جګړه تمرکز ونکړي. دا به د اوسني نسل لویه نېکمرغي وي چې له جګړې روغ ووځي. په ستونزو او جګړو کې په قصدي توګه د پښتنو ښکېلول، ځواکمنو حکومتونو ته لنډمهالې ګټې ورکوی شي، خو دا ډول تګلاره یوازې دوې پایلې لرلای شي، لومړی د دې سیمو د وروسته پاتې کېدو دوهم دا چې د دې سیمو خلک به په هر صورت له خپلو ځانونو دفاع کوي.

پــای

# سلطان قابوس

شفیق امیرزی



قابوس بن سعید چې په عمان کې واک ته ورسېد، نو ایله په دغه وران، وروسته پاتې او له پښو لوېدلي هېواد کې د پرمختګ او نوښت ساه وچلېده. له همدې امله سلطان قابوس په عمان او ټوله سیمه کې له درناوي برخمن دی. هغه په خپلو پلانونو او پرمختګ غوښتونکو افکارو پر دې بریالی شو، چې وروسته پاتې عمان د پرمختګ او ودې لارې ته برابر کړي.

سلطان قابوس بن سعید بن تیمور البوسعیدي د ۱۹۴۰ز کال په نومبر کې په صلاله کې زیږېدلی دی. په عربي کې یې رسمي لقب جلالة السلطان المعظم قابوس بن سعید آل سعید دی. ده په عربي هېوادونو کې تر ټولو ډېره پادشاهي کړې ده او په ټولو عربي پادشاهانو کې دی محبوب کس و او ولس یې درناوی ورته درلود. منځلارۍ سرې و او سیاست یې له ټولو سره دوستي له هېچا سره دښمني و. په دې مانا چې له هېچا سره یې د دښمنۍ او تقابل سیاست نه درلود، خو له ټولو سره یې د ښو اړیکو سیاست خپل کړی و.

په عمان کې د بوسعید کورنۍ سلطنت په ۱۷۴۱ز کال کې رامنځ ته شو. مام احمد بن سعید د عمانیانو په منځ کې له ځانګړې ځای او احترامه برخمن و. لامل یې هم دا و چې دی له اوږدو کشمکشونو په عمان کې د امنیت په تامین بریالی شو. ده وکړی شوی چې کشمکشونه ختم کړي او دغه هېواد د بې نظمیو له دامه خلاص کړي. قابوس د اباضي فرقې و. دا کورنۍ په سنتي لحاظ په عمان کې واکمنه وه. قابوس د خپلو زده کړو لومړنۍ مرحلې او ماشومتوب په خپل اصلي ښار صلاله کې تېر کړل. په شپاړس کلنۍ کې د خپل پلار په لارښوونه انګلستان ته ولېږل شو. ده دوه کال په سلطنتي ښوونځي کې زده کړې وکړې. وروسته د یوه کال لپاره د برېټانیا په ځمکني پوځ کې پر کار بوخت و. بیا یې د آلمان په پوځ کې دنده واخیسته او د غربي المان د پوځ غړی و.

د سلطان قابوس د خصوصي زده کړو دوره په یوه کال کې بشپړه شوه او په ۱۹۴۶ز کال کې بېرته عمان ته لاړ. سلطان قابوس چې کله خپل هېواد ته راوګرځېد، نو له ځان سره یې د انګلستان او المان ذهني انځور هم درلود. دلته یې د خپل هېواد وضعیت وځوراوه او دا هڅه یې کوله چې اصلاحات او وده راولي. سلطان قابوس له موسیقي سره مینه لرله، غوښتل یې کلاسیکه موسیقي وده وکړي او وپالل شي. د دې تر څنګ یې د مډرنې نړۍ ډېر پرمختګونه خوښېدل، خو په عمان ډوله دودیز هېواد کې د هغه افکارو بازار نه درلود او حکومت یې د پلي کولو اجازه نه ورکوله.

سلطان قابوس د عصري زده کړو تر څنګ چې کله خپل هېواد ته را وګرځېد، نو وضعیت ته په کتو یې د اسلامي احکامو او اسلامي شریعت په زده کړه او مطالعه لاس پورې کړ. د عمان د تاریخ لوست ته یې مخه کړه او په دغه هېواد کې یې پخوانۍ سیاسي اړو دوړ او سیاسي وضعیت و ارزاوه. ده له یوې خوا نوي افکار لرل، خو له بلې خوا ده ته د پرمختګ زمینه نه وه برابره، ځکه پلار یې دودپالی و او د نوو مسایلو مخالفت یې کاوه، له همدې امله یې دا پرېکړه وکړه چې د خپل پلار پر ضد کودتاه وکړي.

سلطان قابوس بریالی شو چې په ۱۹۷۰ز کال کې د یوې ارامه او له وینې تویېدنې پرته د کودتاه پر مټ ځان واک ته ورسوي. ده د کودتاه پر مهال دېرش کاله عمر دلود. دغه مهال عمان یو منزوي، بېوزله او یوازې پاتې عربي هېواد و. دا د سلطان قابوس لپاره د ستونزو د پای په مانا نه وه، بلکې له کودتاه سره همهماله نوې ستونزې پیدا شوې. ده نه یوازې دا چې موافقین لرل، مخالفین یې هم لرل. ځکه عمان په تاریخي لحاظ یو دودپالی هېواد دی، نوي څه خلکو ته د منلو نه وو، اصلاحات یې نه غوښتل او د خپل پلار پر وړاندې د سلطان قابوس کودتاه دوی ته ناروا او سپک عمل ښکارېده.

له ۱۹۶۲ز کال وروسته چپي وسله والو د پخواني شوروي اتحاد او چین په ملاتړ د سلطان قابوس پر ضد تحرکات پیل کړل. دوی د عمان په ختیځ کې د ظفار په نامه یوه وسله واله جبهه جوړه کړه او په ښکاره توګه یې شعار دا و، چې د سلطان قابوس حکومت ړنګوي. دې جګړې کلونه دوام وکړ او لسګونه کسان پکې ووژل شول. هغه مهال په ایران کې پهلوي کورنۍ واکمنه وه. محمد رضاشاه پهلوي هم د کمونېزم ضد سړی و او نه یې غوښتل چې په سیمه کې د شوروي له ملاتړه برخمن کسان واک ته ورسېږي. په همدې موخه یې پوځې قطعې د سلطان قابوس مرستې ته ور ولېږلې. په ۱۹۷۵ز کال کې دغه جګړه پای ته ورسېده او د سلطان قابوس مخالفانو ماتې وخوړه. له همدې ورځې وروسته د ایران او عمان تر منځ اړیکې ښې وې او ډېری عربان بیا وایي چې سلطان قابوس هسې د ایرانیانو پر مټ په واک کې پاتې شوی دی. خو په هغه وخت کې د ایران ګټو هم دا تقاضا کوله چې د سلطان قابوس حکومت وساتي او کمونېزم ته د ریښې غځولو موکه ور نه کړي.

سلطان قابوس د سلطان سعید بن تیمور او شاهزادهګۍ مزون المشعني یوازینی زوی و. قابوس په ۱۹۷۶ز کال کې د خپل کاکا له لور سره واده وکړ، خو دا اړیکه تر ډېره ونه پالل شوه او دواړه له یو بل بېل شول. سطان قابوس له دې وروسته بیا واده ونه کړ. له همدې امله هېڅ اولاد هم نه لري چې دې مسئلې د عمان په شاهي نظام کې ستونزې هم جوړې کړې. ځکه ده ځایناستی نه درلود چې تر مړینې وروسته یې واک ته ورسېږي. د قابوس تر مړینې وروسته په عمان کې د واک د لېږد مسئله پېچلې شوه.

سلطان قابوس د پرمختګ او مډرنې نړۍ ارمانجن و. ده دا هیله لرله چې عمان هم لکه د نړۍ نور هېوادونه امن وي، پرمختللی وي او له نړیوالو سره ښې اړیکې ولري. مخکې مو هم وویل چې عمان یو منزوي هېواد و، هېچا ورسره راکړه ورکړه او راشه ورشه نه لرل. سلطان قابوس خپل امکانات و ارزول، خپله وړتیا یې و ارزوله او د همدې پر بنسټ یې د خپل هېواد لپاره سیاسي او اقتصادي لیدلوری جوړ کړ. هغه په خپله ۴۵ کلنه واکمنۍ کې د عمان له نفتي ذخیرو او منابعو په استفادې دغه هېواد ته اوږدمهاله اقتصادي لیدلوری وټاکه. ده له همدې ټکي په استفادې د فارس خلیج کې دغه پراته هېواد ته د پرمختګ لار جوړه کړه. د ژوند معیارونه او سټنډرډونه یې پکې لوړ کړل، اقتصاد یې پیاوړی کړ، سیلانیتوب یا سیاحت یې پر صنعت بدل کړ او پر دغه هېواد یې د خلکو لار راماته کړه. د ټولنیزې اصلاح لپاره یې متې بډ وهلې، اقتصادي ودې ته یې بنسټیز ګامونه اوچت کړل، د فرهنګي ساتنې لپاره یې کار وکړ، د تعلیم تربیې په برخه کې یې مهم پلانونه عملي کړل، چې همدا اقدامات بیا وروسته د عمان د رنسانس په نامه یاد شول.

مخکې مو هم یادونه وکړه، چې ده په یوه محافظه کاره او دودیزه ټولنه کې د مډرنې نړۍ فعالیتونه تر سره کول، نو ځکه یې کارونو ته په درنه سترګه کتل کېږي.

سلطان قابوس یوازې خپل هېواد ته د ننه متوجه نه و، بلکې د سیمې او نړۍ وضعیت یې هم ارزاوه او د دې اړتیا یې درک کوله چې د خپل هېواد لپاره یوه ثابته سیاسي تګلاره جوړه کړي. دی بریالی شو چې عمان له یوه منزوي هېواده په سیمه کې پر یوه سوله ییز او مهم لوبغاړي بدل کړي. د سیمې د هېوادونو په سیاسي معادلاتو کې وروسته عمان ځانګړی ځای خپل کړ او په لویو مسایلو کې به یې د منځګړي دنده تر سره کوله او نن هم په همدې موقف کې دی. د دې منځګړیتوب تر ټولو مهمه پایله د ایران او نړۍ د قدرتونو تر منځ د اټومي هوکړې رامنځ ته کېدل وو. عمان لومړنی هېواد و چې د اټومي هوکړې پر سر یې د بحث او خبرو وړاندیز وکړ او د لومړي ځل لپاره د امریکا او ایران تر منځ د پټو خبرو کوربه و. همدا خبرې د دې لامل شوې چې وروسته د امریکا او د نړۍ ځواکمنو هېوادونو تر منځ اټومي هوکړه رامنځ ته شي، چې بیا وروسته د ټرمپ له لوري لغوه شوه. ایران هم عمان ته په درنه سترګه کتل او لا هم دغه هېواد ته درناوی لري. د ایران مذهبي مشر به د عمان پادشا ته د سیمې د محترم کس خطاب کاوه. ده هڅه کوله چې له ایران سره د سیمې د هېوادونو ستونزې راکمې کړي او همدا راز د فارس خلیج د نورو هېوادونو تر منځ د کشمکشونو لړۍ پای ته ورسوي. سلطان قابوس له هېڅ هېواد سره د اړیکو پرېکولو پلوی نه و.

سلطان قابوس په سیمه کې د یوه سوله ییز شخصیت او همدا راز منځګړي حیثیت درلود. د یمن په مسئله کې یې ډېره هڅه دا وه چې هر څه د خبرو له لارې حل شي. هغه د ښکېلو لورو تر منځ په ځلونو د مصالحې او مذاکراتو وړاندیز وکړ. په دې برخه کې یې عملي هڅې هم وکړې. د سلطان قابوس په هڅو څو ځله د یمني یاغیانو او عرب چارواکو تر منځ پټې خبرې هم وشوې. د همدې خبرو په لړ کې په یمن کې اوس پنځه کلنه جګړه یو څه ارامه شوې ده او نښتې کمې شوې دي.

سلطان قابوس دا ځان ته یو هدف ټاکلی و، چې په نړیواله کچه به د عمان د دوستانه اړیکو کړۍ پراخوي. ان له اسراییلو سره یې هم ښې اړیکې پاللې. په ۲۰۱۸ز کال کې په یوه ناڅاپي سفر د اسراییلو لومړی وزیر بنیامین نتنیاهو عمان ته لاړ. دا په تېرو دوو لسیزو کې عمان ته د لومړني اسراییلي چارواکي سفر و. په دې توګه یې غوښتل چې په سیمه کې هېڅ مخالف ونه لري؛ ځکه عمان له سختو مرحلو تېر شوی و، نو اوس د دې وخت و چې دغه هېواد په اقتصادي او مثبتو سیالیو کې د نړیوالو سیال شوی وای.

د سلطان قابوس حکومت یوازې د خلکو له ملاتړه برخمن نه و، بلکې مخالفین یې هم لرل. په ۲۰۱۱ز کال کې د عرب پسرلي په نوم لاریونونه په عمان کې هم پیل شول. سلګونو کسانو په لاریونونو کې برخه اخیسته او د کار زیاتېدو، د معاشونو د زیاتېدو او اصلاحاتو غوښتنه یې کوله. دغه لاریونونه درې میاشتې اوږده شول، له دې وروسته سلطان قابوس په کابینه کې اصلاحات راوستل او څو څوکۍ یې نورې په مشورتي مجمع کې ور زیاتې کړې. نوموړي د عمان وګړو ته اجازه ورکړه، چې د ښاري شوراګانو لپاره ټاکنې وکړي او د خپلې خوښې کس واک ته ورسوي. د دې تر څنګ د بشري حقونو مدافع بنسټونه بیا وایي چې د سلطان قابوس حکومت د بیان ازادۍ او دغه راز د بشري حقونو فعالین ځپلي دي. دوی پر ده دا نیوکه هم کوي چې د رسنیو فعالین یې محکوم کړي دي او هغه یې ځپلي چې د ده پر ضد یې څرګندونې کړې دي.

سلطان قابوس له کلونو راهیسې د سرطان له ناروغۍ کړې ده. نږدې یو کال کېده چې د رسنیو له مخې لري و. د ۲۰۱۹ز کال په ډسمبر کې بلژیک ته د درملنې لپاره لاړ او د تېرې شنبې په ورځ په مسقط کې ومړ. سلطان قابوس د ځان او هېواد لپاره ډېر څه وګټل. هغه د سیمې د شتمنو پادشاهانو په کتار کې راتلو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳۵ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ٤۸۰ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# له ماتې مه وېرېږئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ځینې کسان په دې اند دي، چې ګواکې ماتې د دوی دښمن دی، خو په اصل کې داسې نه ده. ماتې باید د دې لامل نه شي، چې تاسو له هرڅه لاس په سر شی او هر څه پرېږدی. ځینې کسان د دې لپاره چې له ماتې ډېر سخت وېرېږي، دوی ان دې ته نه حاضرېږي چې یو شی یا یو کار و ازمويي. هغه کسان چې تر اوسه پورې یې په ژوند کې ماتې نه ده خوړلې، هغوی څه زده کړي هم نه دي. «دا هېڅ امکان نه لري، پرته له دې چې په کوم شي کې ماتې ونه خورو او ژوند دې وکړو، خو هغه وخت چې محتاطانه ژوند وکړو او ډېر محتاطانه ژوند په اصل کې لکه ژوند نه کول داسې دي. دغه وخت نو بیا موږ بایلونکي یو.» جي کې رولېنګ

خپل ماشومتوب مو په یاد دی، چې هڅه مو کوله پر لاره تلل زده کړی؟ معلومه خبره ده چې نه؛ ځکه هغه وخت تاسو ډېر کوچني وی؛ خو فرض کوو چې هغه وخت مو په یاد دی.

په لومړي سر کې مو یوازې هڅه کوله چې پر پښو ودرېږی، بیا مو لومړنی ګام واخیست او ولوېدی. ما ته مې مور ویل، هر ځل به دې چې ګام اخیست او لوېدې به، نو په ژړا به شوې.

(ولې کوچني لیوینګستون به چې کله هڅه وکړه چې ګام واخلي او پر لاره لاړ شي لوېدو او بیا به یې ژړل؟ ډېر بې تجربې وم!)

بېرته خپلې کیسې ته را ګرځو، تاسو به بیا یو ګام واخیست او بیا به پر ځمکه را وغورځېدی. تاسو زما په څېر نه ژړل او تسلیم هم نه شوی. همداسې پر له پسې مو هڅه وکړه، څو یوه داسې ځای ته ورسېدی چې اوس کولای شی د یوې چونګښې په څېر ټوپ ووهی او د سویې په څېر تېزه منډه وکړی. ماتې د بریا راز دی او هره تېروتنه موږ د پوهې او تجربې خاوندان کوي.

کله چې موخې ته په رسېدو کې ماتې خوری، مه تسلیمېږئ؛ په بدل کې یې له ماتې څخه تجربه تر لاسه کړئ او بیا هڅه وکړئ. ماتې له تاسو څخه یو بایلونکی نه جوړوي، بلکې تاسو ته فرصت او موکه درکوي، چې له خپلې تېروتنې څخه تجربه تر لاسه کړی. ښه مې په یاد دي، کله مې چې بایسکېل چلول زده کول، هېڅ ښه تجربه نه وه. که مې شمېرلې وای، کېدای شي ووایم چې په زرهاوو ځله به ترې لوېدلای وم. کله به مې چې خپل ملګري لیدل چې پر بایسکېل به سپرېدل، نو ما به هم سره له دې چې ترې وبه لوېدم، بیا بیا مې د بایسکېل د زده کولو هڅه کوله. ما دغه کار دومره تکرار کړ، چې بالاخره وتوانېدم د چا له مرستې پرته بریالی شم چې بایسکېل چلول زده کړم.

تاسو هم له همدې تګلارې څخه د ژوند په ټولو چارو کې ګټه واخلئ. که تاسو په ښوونځي کې په یوه مضمون کې ناکام شوی یاست، دا په دې مانا نه ده چې تاسو احمق او نا پوه یاست. د خپلې ناکامۍ لامل مو پیدا کړئ او د یوه فرصت په توګه د خپلې ګټې لپاره ترې کار واخلئ. په کتاب مو بیا را وګرځئ او داسې هڅه وکړئ چې دا ځل په ټول ټولګي کې تر ټولو لوړې نمرې اخلئ. ماتې په اصل کې په دې مانا ده چې تاسو د بیاځلې هڅې لپاره یو فرصت تر لاسه کړی دی. دا ځل به ستاسو هڅه تر لومړي وار ډېره عاقلانه او پر ځای وي.

د بریالۍ سوداګرۍ ډېریو اوسنیو مخکښانو په لومړي سر کې پر داسې شیانو باندې پانګونه کړې وه، چې ماتې یې پکې خوړلې ده، خو له ماتې سره سره یې له سوداګرۍ او پانګونې لاس نه دی اخیستی. دوی له خپلې ماتې څخه تجربه تر لاسه کړې ده او بیا یې هڅه کړې ده. نن دوی هغه میلیونران دي، چې موږ یې پېژنو. زما مطلب دا نه دی چې د بریالي کېدو لپاره تاسو باید هرو مرو ماتې وخوری، بلکې زما مطلب دا دی چې باید له ماتې څخه ونه وېرېږئ.

ایا د برېښنا په اختراع کې مو د توماس اډیسون کیسه اورېدلې ده، چې څو ځله یې ماتې وخوړه؟ خو هغه هېڅکله هم تسلیم نه شو او بالاخره په دې چاره کې بریالی شو، برېښنا یې کشف کړه او تاسو وینی چې د ننني نړۍ د پرمختګ یوازینی راز برېښنا ده. هغه به ویل: «ما ماتې ونه خوړه، یوازې لس زره نورې لارې مې پیدا کړې چې ځواب ویونکې نه وې.» نو ولې تاسو باید هغه لومړنی کس اوسی چې په انټرویو کې پاتې شوي وی او تسلیم شی؟ زموږ نیمګړتیاوې د ماتې په مانا نه دي، بلکې اصلي ماتې له هڅې لاس اخیستل دي. غواړی وېرې مو د دې لامل شي، چې له هڅو لاس په سر شی او هیلې مو په اوبو لاهو شي؟

ماتې کېدای شي موخې ته په رسېدو کې یو له خنډونو څخه اوسي. دا چې تېروتنه کوی، هېڅ کومه خبره نه ده، بده دا ده چې د دویم ځل لپاره بیا هماغه تېروتنه کوی. د شطرنج په لوبه کې هر حرکت مهم دی. یوازې د لوبې بایلل د دې لامل کېږي، چې بل ځل په پوره دقت لوبه وکړی. فرض کړئ تاسو له یو چا زده کړي، چې د شطرنج لوبه باید څه ډول وکړی، کله مو یې چې چل زده کړ، له هغه وروسته هر چاته وایاست چې راځئ د شطرنج لوبه وکړو او کله چې لوبه کوی، ګټی یې هم. په دې سره تاسو فکر کوی چې نور د شطرنج د لوبې یو تکړه لوبغاړی یاست او په دې برخه کې له نورې زده کړې او تجربې لاس اخلی. تاسو له پرمختګ پاتې کېږی، خو که یوه ورځ تر ځان له یوه تکړه کس سره مخ کېږي، هغه ده چې ماتې خوری. خو دلته هم تاسو په ګټه کې یاست. د دغه کس حرکتونو ته ګورئ او نوي شیان زده کوی. له دې کس سره د لوبې پر مهال ستاسو پام کېږي، چې په کومو ځایونو کې مو تېروتنه وکړه او یا مو کمزوري درلوده. وروسته کولای شی خپلې تېروتنې اصلاح کړی. تاسو چې په هره کچه لوبه بایلوی، په هماغه کچه مو تجربه او پوهه هم پکې زیاتېږي. په بایللو کې په اصل کې د زده کړې امتیاز دی، نه د تسلیمېدو. ډېر کله په جګړه کې ماتې د دې لامل کېږي، چې د بریا لپاره نوې لارې کشف کړل شي. ماتې ته باید د یوه فرصت په توګه وکتل شي، نه د تسلیمۍ.

جاني کش وايي: «تاسو د ماتې په وسیله بریا ته رسېدای شی، له ماتې څخه د لرګیو د زینې په توګه کار واخلئ، تېر هېر کړئ، ماتې در سره لېږدوئ مه، خو هېروئ یې هم مه، مه پرېږدئ چې تېروتنې مو د انرژۍ او وخت د ضایع کېدو لامل شي».

تاسو چې هر ځل ماتې خوری او پر ځمکه را غورځی، که تر اوسه ژوندي وی، باید را پورته شئ، له ځان او جامو څخه مو دوړې او خاورې پاکې کړئ او بیا حرکت وکړئ. بریا له یوې ماتې څخه د بلې ماتې پر لور هغه حرکت ته ویل کېږي، چې په هڅه او انګېزه کې مو بدلون نه وي راغلی.

زما مطلب دا نه دی چې ګواکې په ماتې کې هېڅ ستونزه نشته او ماتې ته په ګرمه غېږ ښه راغلاست و وایاست، بلکې زما مطلب دا دی چې دا زده کړئ، چې څه ډول خپله انرژي له ماتې څخه د یوه لوی شي د لاس ته راوړلو لپاره ولېږدوی. تاسې باید داسې عمل وکړئ، چې همدا ماتې ستاسو د بریا لپاره یوه انګېزه اوسي. د دې پر ځای چې په ګونډو مو کړي، لا مو باید قوي او پیاوړي کړي.

سکیلار ګرې لیکلي: «ستاسو شخصي، مسلکي او نوښتګر ژوند ټول سره په اړیکه کې دی. ما هم په خپل ژوند کې ډېرې سړې او تودې لیدلې دي او فکر مې کاوه چې زه یو بایلونکی یم. خو اړ شوم چې ځان له هغه حالت څخه را وباسم. زما په اند تر ټولو ډېر انګېزه ورکوونکې همدا د ژوند ستونزې دي، خو هغه وخت چې پوه شی، څه ډول باید له دې ستونزو سره مخ شی».

ایا د زړه له تله غواړی، مخکې له دې چې مړه شی، یو څه زده کړی؟ نو بریا ته د رسېدو لپاره مو خپلې هڅې او مینه یو پر دوه کړئ او مه پرېږدئ چې ستونزې او خنډونه مو په ګونډو کړي. په تېروتنو مو مه شرمېږئ، تجربه تر لاسه کړئ او بیا هڅه وکړئ.

## شاهین: د طالبانو او امریکایي پلاوي تر منځ د سولې هوکړه بشپړه شوې او ژر به لاسلیک شي

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې هوکړه بشپړه شوې او ژر به لاسلیک شي.

شاهین ازادي راډیو ته ویلي، د طالب استازو او د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تر منځ د سولې د مذاکراتو په ترڅ کې هوکړه بشپړه شوې ده.

شاهین هغه راپورونه رد کړي چې ګواکې د ایران او امریکا تر منځ شخړو د افغان سولې پر مذاکراتو اغېز کړی وي.

خو د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویلي، تمه لري چې په دې سره د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو زمینه برابره شي.

د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري ویلي: «د افغانستان دولت او خلکو د سولې له اوسنۍ پروسې تمه دا ده چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو اترو لپاره زمینه برابره شي، ترڅو هغه غوښتنې چې موږ لرو، د هغو د بیانولو لپاره له طالبانو سره د مذاکراتو د مېز تر شا کېنو. د دې تر څنګ، د افغانستان د حکومت شرط دا دی چې طالبان اوربند وکړي، ځکه موږ غواړو تاوتریخوالی کم او د بې ګناه وګړو وژل پای ته ورسېږي».

دا په داسې حال کې ده چې د زلمي خلیلزاد او طالبانو تر منځ د افغان سولې په تړاو لس پړاوه خبرې وشوې چې بالاخره د طالبانو د قطر دفتر ویاند په خبره، په څلورو مواردو (له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په څرنګوالي، د تاوتریخوالي پر راکمولو، د افغانستان خاوره د بل هېواد پر ضد نه کارېدل او د بین الافغاني خبرو اترو په تر سره کولو) باندې سره سلا شوې ده.

د شاهین په خبره، په دې هوکړه کې نوي څه نه دي ځای شوي.

بلخوا ځینو افغان سیاستوالو ویلي چې افغان حکومت باید له طالبانو سره د تاوتریخوالي پر راکمېدو هم قناعت وکړي.

د سولې عالي شورا مرستیال حاجي دین محمد ویلي، ښه ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې دا هوکړه ژر تر ژره لاسلیک شي.

هغه ویلي: «اوس دا موافقتنامه تر دې رارسېدلې چې بالاخره لاسلیک شي. دا توافقنامه دې په نورو پلمو نه ځنډېږي، خو که طالبانو اوربند منلی وای، ښه خبره وه. که د اوربند پر وړاندې خنډونه موجود وي، د تاوتریخوالي کمېدل هم کولای شي موږ تر اوربنده ورسوي او پکار ده چې د سولې پروسه پرمخ لاړه شي».

## ولسي جرګه: له دې وروسته د سوداګرۍ وزارت هېڅ پرېکړه ورته د منلو نه ده

ولسي جرګې د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې د سوداګرۍ وزارت بودجه وځنډوله.

د دې جرګې رییس میر رحمان رحماني ویلي چې ولسي جرګې څو ځله د سوداګرۍ وزارت له سرپرست اجمل احمدي غوښتي چې دې جرګې ته د ځواب ویلو لپاره حاضر شي، خو احمدي له دغې غوښتنې په انکار سره د ولسي جرګې غړو ته سپکاوی کړی دی.

جرګې ته د اجمل احمدي نه تګ د دې لامل شو چې ډېری وکیلان د دغه وزارت د بودجې د ځنډېدو په اړه رایه ورکړي او همدارنګه ټینګار یې وکړ چې له دې وروسته د احمدي هېڅ پرېکړه ولسي جرګې ته د منلو نه ده.

د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني په دې اړه ویلي: «داسې وضعیت راغلی چې حتی وزیر یې موږ په یوه کال کې پیدا کولای نه شو... دا وضعیت به ناوړه پایله ولري».

د دغې جرګې ځینو نورو غړو ویلي چې اجمل احمدي ملي شورا ته بې احترامي کړې او باید له دندې لرې کړل شي.

د ولسي جرګې غړي عباس ابراهیم زاده ویلي: «ولسمشر دې هغه له دندې لرې کړي، که چېرې یې نه کوي، بودجه دې بنده شي او څارنوالۍ ته دې معرفي شي».

د جرګې بل غړي خالد اسد ویلي: «هغه ملي ګټو ته ژمن نه دی، اصلاً د لېسانس سند هم نه لري، خو موږ ته یې د ماسټرۍ سند راوړی دی».

وکیلانو له دغو بحثونو او څرګندونو وروسته پرېکړه وکړه، تر هغې چې اجمل احمدي له دغه وزارته نه وي لرې کړای شوی، د دغه وزارت بودجه دې وځنډول شي.

د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني زیاته کړې: «له نن (پرون) نه وروسته موږ دی د سوداګرۍ وزیر په توګه په رسمیت نه پېژنو، په هره مقررۍ او هر تړون کې د هغه یو لاسلیک جرم دی».

خو سوداګرۍ وزارت د دغو نیوکو په اړه ویلي، هر کله چې ولسي جرګې له هغوی غوښتي د دغه وزارت چارواکي کمېسیونونو ته د ځواب ویلو لپاره تللي دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۲٤مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ١٤مه |٤۹٦یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱ | ٦ | ٦ | ۱۲ | ۸ |
| -۹ | -۱۰ | -٤ | -۲ | ۲ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۲ | مازیگر ۰۲:٤٤ | ماښام ۰۵:۰۲ | ماخوستن ۰٦:۳۱

## اداره عملیاتی ارگ از کارکردهایش به رسانه‌ها اطلاعات ناقص داده است



بر اساس گزارش ها، اداره عملیاتی و حمایوی توسعه ملی ریاست جمهوری، در دوسال اخیر، بیش از ۸۰۰ پروژه را در بخش های گوناگون، به دست آورده است. اما این اداره، در باره هزینه ها و جزئیات کار این پروژه ها، به رسانه ها، اطلاعات ناقص و چند پهلو داده است.

مسؤلان این اداره می گویند که آنان کارهای شان را شامل ۵۷ پروژه بزرگ کرده‌اند و تاکنون، نزدیک به ده میلیارد افغانی در این پروژه‌ها هزینه شده است؛ اما دیده بان شفافیت افغانستان بدین باور است که سی تا چهل درصد بودجه کشور، در کارهای اداره عملیاتی و حمایوی توسعه ملی ریاست جمهوری هزینه می شود.

بربنیاد اطلاعاتی که اداره عملیاتی و حمایوی توسعه ملی ریاست جمهوری به رسانه ها داده است، این اداره که دوسال از ایجادش می گذرد، تاکنون ۸۳۵ برنامه ساختمانی و بازسازی را زیر پوشش ۵۷ پروژه بزرگ، در کارنامه دارد که از این میان، ۱۱۳ برنامه تکمیل شده‌اند. مسؤلان این اداره می گویند که آنان در این مدت، نزدیک به ده میلیارد افغانی را هزینه کارهای‌شان کرده‌اند و در مقابل، از این رهگذر، نزدیک به سه میلیارد افغانی صرفه‌جویی شده‌است.

حجت‌الله مجددی، مسؤل رسانه‌های اداره عملیاتی و حمایوی توسعه ملی ریاست جمهوری، گفته است: «رئیس صاحب جمهور هم اکثریت کارها را هموطنان ما هم متوجه استند که اگر فکر می کند که توسط یک مرجع دیگر انجام نمی‌شود، برای اداره عملیات می‌دهد».

و اما، در فهرستی که اداره عملیاتی و حمایوی توسعه ملی ریاست جمهوری، از کارهای این اداره به رسانه ها فرستاده است، در باره جزئیات و هزینه‌های هر یک از برنامه‌ها و پروژه‌های زیر پوشش این اداره، چیزی دیده نمی‌شود.

نړۍ




## امریکا: له شمالي کوریا سره د خبرو د بیا پیل هڅې پیل شوې دي



د امریکا د ملي امنیت سلاکار ویلي، سپیني ماڼۍ له شمالي کوریا سره د خبرو هڅې پیل کړې او دوی تمه لري چې یاد هېواد بېرته د خبرو مېز ته راوگرځي.

د متحده ایالتونو د ملي امنیت سلاکار رابرټ اوبراین په خپله تازه مرکه کې ویلي، امریکا له بېلابېلو لارو شمالي کوریا ته پیغامونه استولي او د یاد هېواد له رهبر کېم جونگ اون څخه یې خبرو ته د بیا راگرځېدو غوښتنه کړې ده. اوبراین دغه راز ویلي، د شمالي کوریا له لوري د کرېسمېس په ډالۍ کې د تهدید نه عملي کېدل مثبت کار دی او دا د دې ښکارندويي کوي چې یاد هېواد ممکن خبرو ته نرمښت وښيي.

خو په ورته وخت کې شمالي کوریا د ټرمپ له لوري د کېم جونگ اون د کلیزې مبارکۍ پیغام ته په غبرگون کې ویلي، دا پیغام د خبرو د پیل لپاره کافي نه دی. پیونگ یانگ ویلي، امریکا دې د دوی له غولولو لاس واخلي او په دې برخه کې دې خپله ژمنتیا ثابته کړي.

د یادونې ده چې د امریکا او شمالي کوریا تر منځ د تاوتریخوالي د کمولو پر سر رواني خبرې وروسته له هغې وځنډېدې، چې پیونگ یانگ ادعا وکړه چې امریکا د خبرو په روانه پروسه کې رښتیني نه ده او یوازې دوی ته د چل او فرېب هڅه کوي.

## حزب الله: ډېر ژر به له امریکا د قاسم سلیماني د وژنې غچ واخلو



د لبنان حزب الله ډلې ویلي چې د قاسم سلیماني د غچ اخیستلو وخت رسېدلی، خو له سیمې د امریکایي ځواکونو لرې کول اوږد مزل غواړي.

د دې ډلې مشر حسن نصرالله په یوه ټلوېزیوني بیان کې ویلي چې دوی تیار دي چې له امریکا د سلیماني د وژنې غچ واخلي.

نصرالله دا ادعا هم کړې چې گواکې د قدس ډلې وژل شوي قوماندان قاسم سلیماني د امریکا پر سفارتونو د بمي بریدونو پلان درلود.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له دې مخکې ویلي وو چې سلیماني ځکه عراق ته په رسېدو ووژل شو، چې پلان یې درلود څو د امریکا پر سفارت بمي برید وکړي.

په ورته وخت کې امریکایي چارواکو د حزب الله ډلې د تازه دریځ په اړه څه نه دي ویلي، خو له دې وړاندې یې ایران ته خبرداری ورکړی و چې که د سلیماني د غچ هڅه وکړي، له سخت ځواب سره به مخ شي.

خو د امریکا له دغه گواښ سره سره، د ایران سپاه پاسداران څه موده وړاندې په عراق کې د امریکا په مېشتو اډو د بالیستیک توغندیو بریدونه وکړل، چې ویل کېږي په دغو بریدونو کې امریکایي پوځیانو ته مرگ ژوبله نه ده اوښتې.

د یادونې ده چې امریکا د حزب الله ډله یو تروریستي سازمان بولي، دا ډله په ۱۹۸۲ ز کال کې د ایران د سپاه پاسداران له خوا رامنځ ته شوې ده.

ژوند

## تاسو هم د موبایل له دروغجن زنگ ځورېږئ؟



ولې ډېر کله داسې کېږي، چې موږ فکر کوو موبایل ته مو زنگ دی او یا هم موږ د خپل موبایل لړزه احساسو، خو په حقیقت کې داسې څه نه وي. څنگه کولای شو له داسې یو حالت څخه ځان وژغورو؟ ۹۰ سلنه د موبایل کاروونکي له دې ځورېږي، چې د موبایل پر دروغجن زنگ او لړزه غولیږي. څېړونکي وايي چې نوې ټکنالوژي په ځانگړي ډول موبایل زموږ د وجود یوه برخه گرځېدلی. همدا لامل دی چې موږ ډېر کله د موبایل دروغجن زنگ اورو. ځینې نور څېړونکي بیا پر دې باور دي، چې د موبایل دروغجن زنگ اورېدل او یا یې لړزه احساسول یو ډول تشویش دی. بله خبره دا چې د موبایل ډېر استعمال هم د دروغجن زنگ اورېدو تشویش پیدا کوي. ځینې نور بیا پر دې باور دي، چې کله هم څوک د کوم کار په اړه تشویش ولري او یا هم د چا د زنگ وهلو په تمه وي، نو د دروغجن زنگ اورېدو پر ناروغۍ اخته کېږي. که غواړئ له دې ستونزې ځان خلاص کړئ، ښه ده چې تمرکز مو پیاوړی کړئ او په یو وخت کې پر یوه مشخص کار فکر وکړئ. د موبایل لږ کارول هم دغه ستونزه له منځه وړلای شي.

## له ستونزې د فرصت په توگه گټه واخلئ



زموږ انسانانو له اړینو ځانگړتیاوو څخه یوه هم د ټاکلو وړتیا ده. د دې ټاکنه چې څنگه ژوند وکړو، د دې ټاکنه چې څه به کوو او د دې ټاکل چې د حالاتو او وضعیت په اړه زموږ نظر څه دی.

د سکي لوبې په خاطر له خپلو اولادونو سره یوه غره ته لاړم. له دې یوه ورځ مخکې باران ورېدلی و او لا هم روان و. دا موضوع کېدای شوای چې زموږ د خلق تنگۍ لامل شوې وای، کولای مو شوای چې شکایت وکړو، کېدای شوای چې ناهیلي شوي وای، پرېکړه مو وکړه چې د غوسې، ناهیلۍ او بد خلقۍ پر ځای یوه بله ټاکنه ولرو. د ناراحتۍ پر ځای لاس پکار شو او د سکي لوبې لپاره مو د باران ضد کوټونه واغوستل. له سکي لوبې څخه مو ډېر خوند واخیست. یوه خارق العاده د سکي لوبه مو وکړه، واوره نرمه وه او هره خوا ارامه او ښکلې شوې وه. یوه اونۍ وخت نیسي څو دا موسکا زما له شونډو لرې شي. موږ هره ورځ د ټاکنې موقع لرو. زموږ ټاکنې زموږ راتلونکي ته بڼه ورکوي. نو خواشیني کېږی مه! لکه څنگه چې پاول ټروکس ویلي: «یوازې منفي فکره کسان د بدو رخصتیو لپاره باران ملامتوي».